

# د امريکا متحده آيالاتو کې د ټولنې خدمتونه

کله چې تاسې د امريکا متحده آيالاتو ته راورسيږئ، نو د ټولنې بيلابيل خدمتونه ستاسې لپاره موجود دي. د ټولنې د خدمتونو ډولونه او مقدار په هرځای کې سره ډير توپير کوي. ستاسې د بيا ميشتيدنې اداره کولی شي د ټولنې هغه خدمتونو پيژندلو او لاسرسي په برخه کې درسره مرسته وکړي د کومو لپاره چې تاسې په شرايطو برابر يې، مګر تاسې هم کولی شئ د خپلې نوې ټولنې په اړه معلومات ترلاسه کړئ او ورسره آشنا شئ ترڅو وکولی شئ په خپلواک ډول خدمتونو ته لاسرسی ولرئ.


## د ټولنې خدمتونو ته د لاسرسي ګټې

د خپلې ټولنې او ستاسې لپاره موجود خدمتونو پيژندل ستاسې په ځان بسيا او ادغام کې مرسته کوي. د مثال په توګه، ځينې خدمتونه ممکن مرسته وړاندې کړي که تاسې له مالي پلوه مشکل ولرئ يا ځانګړې اړتياوې لرئ. د ټولنې ځينې خدمتونه ممکن تاسې سره دندې موندلو او انګلسي ژبې زده کولو کې مرسته وکړي. د ټولنې نور خدمتونه د خپلې کورنۍ سره تفريحي فعاليتونو کې بوختيا لپاره فرصتونه وړاندې کوي. په خپله ټولنه کې فعال موجوديت د نورو خلکو سره د ليدلو او نوي هيواد او کلتور کې د سازګارۍ سټريس هوساينې لپاره غوره لاره ده. په نهايت کې، د ټولنې خدمتونو سره آشنايي، په ځانګړي توګه بيړني خدمتونه او پوليس، ستاسې د خونديتوب او امنيت ډاډ وړاندې کوي.


## د ټولنې د خدمتونو ډولونه

د ټولنې ډيری مختلف ډوله خدمتونه شتون لري؛ ځينې يې وړيا يا په ټيټ لګښت موجود دي. د ټولنې خدمتونه د حکومت، ټولنې کې موجود سازمانونو، د عقيدوي سازمانونو يا خصوصي سوداګريو لخوا وړاندې کيږي. ټولنې خپلو اوسيدونکو ته د خدمتونو وړاندې کولو کې له يوې بلې سره ډير توپير لري. دلته د ځينې ټولنې خدمتونو په اړه نور تفصيلات دي چې تاسې يې ممکن د امريکا متحده آيالاتو کې پيدا کړئ.

د امريکا متحده آيالاتو کې د ټولنې خدمتونه





## بیړني خدمتونه او پولیس

ټولې ټولنې پولیس، اطفایه، او بیړني طبي خدمتونه لري، کوم چې اوسیدونکو ته خدمت او ساتنه یې کوي. که تاسې د پولیسو سره مخ شئ، تاسې باید هغوی ته غوږ شئ او د هغوی نه ویره ونلرئ. که تاسې د پولیسو سره خبرې نشئ کولی، د ژباړونکي لپاره غوښتنه وکړئ. په بیړني حالت کې د مرستې ترلاسه کولو لپاره، په تلیفون کې 911 ډایل کړئ. که تاسې په انګلسي ژبه نه غږیږئ، نو ووایی "انګلسي نه. مرسته"یا "انګلسي نه. عاجل."

## حکومتي مرسته

حکومت د ټولنې مختلف خدمتونه وړاندې کوي، چې لدغو څخه ځینو ته یوازې په شرایطو برابر افراد یا کورنۍ لاسرسی درلودلی شي. دا پروګرامونه مختلف دي او خواړه، مالي مرسته، او/یا طبي مرسته وړاندې کوي. حکومتي پروګرامونه عموماً د حکومت ټولنیز خدمت ادارو لخوا مدیریت کیږي او د ګډون لپاره سخت محدودیتونه او لاربښوونې لري.

## کتابتونونه

عامه کتابتونونه کتابونه او نور مواد لکه سي.ډي او ډي.وي.ډي ګانې لري او اوسیدونکي کولی شي د کوم لګښت پرته یې په پور واخلي. کتابتونونه اکثر نور پروګرامونه هم وړاندې کوي، لکه د ماشومانو لپاره فعالیتونه او د لویانو لپاره د انګلسي ژبې ټولګي. هغوی ممکن د عامه استعمال لپاره کمپیوټرونه هم ولري.

## پارکونه

پارکونه دباندې فعالیتونو لپاره خلکو ته پرانیستي دي، لکه ګرځیدل، ځغاستل، لوبیدل، یا کښیناستل او آرام کول. ځینې پارکونه د پیکنیک او تفریح ځایونه، د لوبو ډګرونه، او د ورزش ساحې لري. پارکونه پدې اړه مقررات لري چې تاسې پکې څه کولی شئ او څه نشئ کولی. د مثال په توګه، خزلې اچول منع دي او ډیری پارکونه د تیاره کیدو نه وروسته تړل کیږي.

## پوسته خانې

پوسته خانه کې تاسې کولی شئ لیک یا پاکټ واستوئ، یا سټامپ وپیرئ. د امریکا متحده آیالاتو پوسته خانې د فدرالي حکومت لخوا چلول کیږي.

## تفریحي او د ټولنې مرکزونه

تفریحي یا د ټولنې مرکزونه هغه ځایونه دي چې خلک پکې په خوندي چاپیریال کې په مختلف فعالیتونو کې د ګډون کولو لپاره راټولیدی شي. د فعالیتونو مثالونو کې یې د ورزش یا لوبو لوبیدل، د ټولګیو ترسره کول، د شریک لیدلوري اړوند ټولنیزو غونډو کې ګډون کول شامل دي. تفریحي ځایونه لویانو او ماشومانو دواړه لپاره پرانیستي دي، او فعالیتونو ته وړیا یا د فیس په بدل کې لاسرسی شونی دی.

## د حکومتي مرستې ډولونه

ځینې حکومتي مرستې د فدرالي حکومت لخوا وړاندې کیږي او ځینې مرستې د آیالتي او ځایی حکومتونو لخوا وړاندې کیږي. د دې دلیل لپاره، لاندې لست شوي ټول پروګرامونه په هره ټولنه کې موجود نشي کیدی. د مرستې پروګرامونو لپاره په شرایطو برابري د موقعیت له مخې توپیر لري او ممکن ځینې فعالیتونو ته اړتیا وي همدارنګه د معلوماتو تازه کول لکه استخدام یا عاید کې بدلونونه. ستاسې د بیا میشتیدنې اداره به تاسې سره مرسته وکړي چې ځینې پروګرامونو ته لاسرسی ولرئ، مګر تاسې پخپله هم کولی شئ پوهه شئ چې څنګه دې پروګرامونو ته لاسرسی ولرئ.

### د نغدي مرستې پروګرامونه

د هغه خلکو لپاره چې دندې موندلو کې مشکل لري، دوه پروګرامونه لنډمهاله مالي مرستې برابروي: د والدین او ماشومانو لپاره اړمن کورنیو ته لنډمهاله مرسته (TANF) او د مجرد او ماشومانو نلرونکي متاهل مهاجرینو لپاره د مهاجرینو نغدي مرسته (RCA).

### د مطابقت مرستې پروګرام

ډیری د بیا میشتیدنې ادارې دا پروګرام د هغه مهاجرینو لپاره د نغدي مرستو پرځای وړاندې کوي څوک چې غواړي کار وکړي، مګر لومړی یوڅه مالي مرستې ته اړتیا لري. پدې پروګرام کې داخل مهاجرین ژمنه کوي چې هرڅومره ژر ممکن وي دنده واخلي. په بدل کې یې هغوی د امریکا متحده آیالاتو کې د خپل شتون لومړیو ٤ نه تر ٦ میاشتو پورې مودې لپاره مالي مرسته، د دندې مشوره، او د دندې ځای په ځای کولو خدمتونه ترلاسه کوي.

### د تکمیلي تغذیه د مرستې پروګرام (SNAP)

دا فدرالي پروګرام ټیټ عاید لرونکي خلکو ته مالي مرسته ورکوي چې خواړه وپیري. پدې پروګرام کې فرد ته کارت ورکول کیږي چې کولی شي هره میاشت د ټاکلي مقدار خوړو پیرلو لپاره یې وکاروي. مهاجرین کولی شي د ځایی حکومت دفتر کې د خوړو مرستې لپاره غوښتنه وکړي. د مرستې مقدار د کورنۍ د اندازې او عاید پربنسټ دی. که چیرې ستاسې د SNAP مرستې د ترلاسه کیدو پیل وروسته ستاسې د کورنۍ اندازه یا عاید بدل شي، تاسې اړ یې په خپل ځای کې د حکومت اړوند چارواکو ته خبر ورکړئ.

### د تکمیلي مصؤنیت عاید (SSI)

دا د هغه خلکو لپاره د فدرال نغدي مرستې پروګرام دی څوک چې ړانده، معیوب دي یا عمر یې د 65 کلونو نه ډیر دی او لږ عاید لري یا هیڅ عاید نلري.

### د ماشوم پاملرنې د مرستې پروګرامونه

ځینې ټولنې د ټیټ عاید لرونکي خلکو لپاره وړیا یا د ټیټ لګښت ماشوم پاملرنه وړاندې کوي ترڅو هغوی وکولی شي کار وکړي یا په کار پسې وګرځي.

**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor • Silver Spring, MD 20910
For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**